دوکتور صلاح الدین سعیدي ۲۰۱۹/۰۱/۰۳

# در مورد غصب زمینهای دولتی

## ننګرهار والي ته پیغام!

د ننګرهار معزز هڅاند، متعهد او صادق، کار پوه والي صاحب جناب حیات الله حیات السلام علیکم و رحمه الله و برکاته اما بعد
هماغسي مي چي تاسي ته په مخامخ ناسته کي د کلیدي او مهمو مرکزي مقاماتو تمرکز په مهمو او کلیدو مسایلو باندي تأکید وکړ چي کلیدي مقامات باید پر داسي کلي ګانو تمرکز وکړي چي پر هغي یو قفل نه بلکي زرهاو قفلونه خلاص شي.
پر بعضي انفرادي امنیتي او د قانون د تطبیق برخه کي ستاسي د تمرکز دلایل او د هغه منطق او د افغانستان ځانګړتیاو توضیحات مو هغه وخت هم په دقت واورېدل او د هغوی په منطق هم تر ډېر بریده پوه شو خو اصل پر خپل ځای لا اوس هم باقي پاتي دی.
مونږ په ننګرهار کي د ستاسو د اساسي تمرکز په سترو طویل المدت پروژو لکه ننګرهار ته نړیوال هوایي میدان، د ترین (اورګاډي)، برېښنا او سترو نړیوالو روغتونو او نړیوالو علمي مراکزو باندي اساسي کار کول د مسرت او خوشحالی ځای دی. تاسي دا هم وفرمایل چي تاسي حاضر یاست د دي پروژو د عملي کولو برخه کي چي اوږد مهاله دي د مختلفو پړاوو د اجراأتو مستندات هم وړاندي کړئ. د حالت او ستاسي دا هڅي او اجراأت ننګرهاریانو او افغان ملت د خوشحالی او مسرت خبر ده او ان شاء الله تعالی برياوی به مو په برخه وي او د ننګرهار ولسونه هغو ته د قدر په سترګو ګوري.

**زه باور لرم چي ستر اجرونه مو به نصیب شي.**

د دي پیغام اصلی لامل د ننګرهار د فارم د ۲۵ هکتاره اجازه ځمکي فضولي غصب او د دي ځمکو ناروا خرڅلاو او دغه برخه کي ستاسي هڅي چي غاصبین د قانون پنجو ته وسپارئ هغه کلیدي کار دی چي د عدلي او قضایي ارګانو مسؤلین باید دا تخلفات تعقیب او عدالت تطبیق کړي.
فضولي تصرف شرعاً او قانوناً تعریف لري مرتب شوي آثار او اجراأت یي له صفري نقطی باطل دي. (تفاصیل لري).
مغصوبه ځمکه او د هغه بایع او مشتري، له فضولي اجراأتو با خبره مشتري او بي خبره مشتري، شرعي او قانوني عواقب او مرتب شوي آثار او د هغو پایلي دی پروسي کي شریکو اشخاصو ته شرعي او قانوني، حق الله او حق العبد، عواقب او پایلي تفاصیل لري.

## خبره:

اختلاس: یعنی ربودن مال بصورت آشکار و فرار کردن.
انتهاب: مالی را بقهر و غلبه گرفتن و غصب مال بصورت آشکارا و با اعتماد بر قهر و زور.
در بعضی جوامع هم اختلاس را پولی غیر قانونی و از راه نامشروع درآوردن، و یا سوءاستفاده مالی توسط شخصِ مسئول دانسته اند، اما سوء استفاده مالی توسط مسئول نوعی از خیانت در امانت است، بهر حال این روش هم جزو سرقت تلقی نمی شود و حد سارق بر فرد اختلاس کننده جاری نمی شود، اما قاضی شرع می تواند وی را تعزیر کند.
امام ابن القیم در مورد گفته: «بریدن دست دزد و سارق برای دزدیدن سه درهم و نبریدن دست مختلس و منتهب و غاصب از حکمت کامل خداوند و شارع مقدس است، زیرا پرهیز و احتراز از دزد ممکن نیست، او دیوار خانه‌ها را سوراخ می‌کند و جای امن و حِرز را بهم می‌زند و قفل را می‌شکند و صاحب کالا تنها می‌تواند بدور مال خویش دیوار بکشد و بر درِ آن قفل بزند و بیشتر از آن نمی‌تواند پرهیزکند و احتیاط نماید. اگر شارع مجازات بریدن دست

را برای دزد تعیین نمی‌کرد همواره مردم به دزدی از یکدیگر می‌پرداختند و آنوقت زیان و ضرر مردم فراوان می‌گشت و مردم سخت گرفتار دزدان می‌شدند.
اما بر خلاف مختلس و منتهب، کسی که به انتهاب دست می‌زند آشکارا و درجلو چشم مردم مال را می‌رباید، مردم می‌توانند بردست او بزنند و از حق مظلوم دفاع کنند و پیش حاکم‌گواهی بدهند. و کسی که به اختلاس اقدام می‌کند از غفلت مالک و دیگران بهره می‌گیرد و فرصت می‌یابد تا حد کوتاهی از مالک و مردم است، که او این فرصت را یافته است. اگر مالک (حاکمیت، والی، څارنوال و قاضی) و دیگران بیدار باشند و آگاه، او نمی‌تواند اختلاس کند او مانند سارق نیست و باندازه سارق خطرناک نمی‌باشد، بلکه بیشتر به خیانتکار خیانت پیشه شباهت دارد.
بعلاوه اختلاس بیشتر در غیر محل حرز صورت می‌گیرد، زیرا او کس را غافل می‌کند و از غفلت و عدم احتیاط شخص مالك استفاده می‌کند و مال را می‌رباید و معمولا می‌توان از آن پرهیزکرد و او نیز مانندکسی است که به نهب و نبودن آشکارمال دست می‌زند. و حال غاصب آشکار است و بطریق اولی نباید دستش بریده شود. لیکن با ضرب و شکنجه و زندان طولانی وکیفر با اخذ اموال و غرامت ازآنان می‌توان از تجاوز آنان جلوگیری نمود» " أعلام الموقعين " ( 2 / 48 )
سعید بن زید رضی الله عنه روایت است: از پیامبر صلی الله علیه وسلم شنیدم که فرمود: (من ظلم من الأرض شيئا طوقه من سبع أرضين) «هر کس قطعه‌ای از زمین را غصب کند (به همان اندازه) هفت طبقه زمین در گردن او طوق می‌شود». متفق علیه : بخاری (2452)، مسلم (1610).

این حاکمیت است که عدالت را به موقع تطبیق کند و برای تکمیل بحث:

کسیکه زمین را از دست داده باید نزد قاضی رفته و شکایت کند، و حق خود را مطالبه نماید؛ اما ضربه رساندن به فرد غاصب (از طریق انتقام جویی) به هیچ وجه جایز و شرعی نیست و اگر غاصب کشته شود، فرد قاتل قصاص می گردد و اگر او را نقص عضو کند او نیز به قصاص آن نقص عضو خواهد شد.

د قانون د حاکمیت او ښې دولتدارۍ نه زما د برداشت پر بنیاذ ستاسي د کار تمرکز نباید د عدلي او جزايي ارګانو د قانوني اجراأتو او دې پروسې د عادي جريان کې مداخله وي، چې نه ده.

خو ستاسي د تمرکز اساسي او کلیدي، سرمشق کار چې د افغانستان په سطح د قانون نه د سرغړونکو مقابل کې د قانون او حاکمیت د ترس او رعب او د افغان حاکمیت او افغان مرکزي حاکمیت د سیستم سازۍ کار وي هغه کار او جهت دی چې باید پرې تمرکز وشي.

تاسي او د ستاسو د تثبيت پر بنیاد د افغانستان مرکزی حاکمیت، قاضي القضات، لوی څارنوال، د داخلي وزیر او د افغانستان جمهور رئیس ته په کار ده چې د ستاسي د مؤثقو معلوماتو پر بنیاد د هغو قاضیانو، امنیه قومندانانو، څارنوالانو، شاروالانو وظايف تعلیق او عدالت ته وسپاري کومو چې دې برخه کې وظیفوي غفلت او له قانونه سرغړونه کړې.

داچي دا ستاسي اداري معلومات چې د وظايفو دې تخلف کې د مشکوکو تاو ککړو دولتي کارکوونکو د کار د تعليق موجب شول او دغه اداری اجراأت بیا عدالت کې څنګه تابت او یا ثابت نه شول هغه کار دی چې عدلي او قضایی مراجع يې باید نهايي کړي. دې کې شک نه شته چې تخلف شوای او فضولي کس د بل په ملت، په عامه ملکیت کې تصرف ملکيتي کړای او دا د اخلاقو، شرعي او د نافذو قوانینو نه سر غړونه شوی. داچي چې چا عمدي او چاء خطاء او چاء غفلت او چا څه کړي، دا باید قانون او عدالت تثبیت کړي.

دا زه چې راځم او خپله ځمکه پر چاخرڅوم او وثايقو (محکمي) کې قباله تېروم نو د وثايقو قاضي اوله پوښتنه دا کوي چې ته د کوم صلاحیته دا ځمکه دخرڅوي او د ملکیت سند دې کوم دی. د هغه سند پر بنیاد قباله تېريږي. که دا کار نه دی شوای نو د تقلب کار سره سره د قاضي د جرم شريک او د وظيفي نه د تعليق، عزل، جزا او تعقيب عدلي مشخص سند وجود لري چې تاسي والي صاحب، د داخلي وزير، ستري محکمي، لوی څارنوالي او د افغانستان جمهور رئيس (چي قاضي ته د فضاوت فرمان ورکړای) خپله برخه کې عاجل، په موقع، سیستم ساز، د حاکمیت د اتوريتي د جوړولو او قانونیت د تطبیق لپاره داسي قدم، ګذار او حرکت وکړي چې تأثيرات يې ټول هېواد کې خائین پولیس، خائين ښاروال، خائين څارنوال، خائين قاضي او حتی د خائين والي خوب خراب او حرام کړي. ټولني ته، بايع او مشتر، شاهد او محرر، مأمور او ساختماني انجينر... ته پوره پوره درس، عدالت تطبیق د قانونیت اصل تقويت او د راتلونکو تخلفاتو مخنيوی وکړي.
دادی هغه مرکزي او سیستمي کار چي تاسي پرې تمرکز وکړئ او د قانون د تطبيق پروسي کې کليد سازه، خپل عملي ملاتړ او سیاسي اراده د قانون د تطبيق لپاره وکاروئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ملت د چارواکو نه د کار د نادرستوالی شکایت کولو توقع نه لري. دا ملت دی چې باید شکایت وکړي، د قانون د عدم تطبیق نه باید خپل غږ پورته کړو او چارواکي د شکایت پر ځای اجراأت وکړي.
تعجب کوو چې ډېر ځلي هغوی چې خپله د وضعې د خرابېدو مجریان دي او د امورو زمام یې لاس کې لرل او لاس کې لري، هغوی د غولنې او یا نادانۍ له کبله خپله شاکي هم دي.
دا د منلو وړ نه ده او حالت باید تغییر ومومي.مونږ ډېر فرصتونه له لاسه ورکړي او نور نباید له لاسه ورکړو.

و من الله التوفیق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ